صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان


# آریانه


شماره ۹۵

د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د ویاند دفتر، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: رجب المرجب ۷، کال ۱۴۴۷ هجري قمري


## سرمقاله

### د بېرته راستنېدونکو مهاجرينو لپاره د دايمي استوګنې پر لور مهم ګام

په داسې حال کې چې افغانستان له څو لسيزو جګړو وروسته د ټولنيز ثبات او اقتصادي رغونې پر لور په چټکۍ سره ګامونه اخلي، د بېرته راستنېدونکو مهاجرو د دايمي استوګنې مسئله د نظام له مهمو لومړيتوبونو څخه شمېرل کېږي. هغه زرګونه کورنۍ چې له کلونو مهاجرت وروسته هېواد ته راګرځي، يوازې سرپناه نه، بلکې د عزتمن ژوند، امنيت او دوامدار ثبات غوښتنه لري. د همدې اړتياوو د درک په موخه، د کور او ښار جوړولو وزارت د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د معياري ښارګوټو پراختيا ته ځانګړې پاملرنه کړې ده، څو له دې لارې راستانه شوي هېوادوال د دايمي او باعزته استوګنې له لازمي اسانتياوو څخه برخمن شي.
د کور او ښار جوړولو وزارت د معلوماتو له مخې، دا مهال د هېواد په ۱۵ بېلابېلو ښارګوټو کې د سړکونو د جوړولو، هوارولو او جغل اچونې چارې په چټکۍ روانې دي. دا چارې د ښارګوټو د بنسټيزو خدماتو له مهمو پړاوونو څخه شمېرل کېږي، ځکه چې د سړکونو شتون د استوګنې، ټرانسپورټ، امنيتي اسانتياوو او نورو خدماتو د برابرولو لپاره بنسټيز ارزښت لري...

۲


## د دايکندي ولايت د مرمر ډبرو تړون لاسليک شو



د کانونو او پټروليم وزير محترم الحاج ملاهدايت الله بدري د دايکندي ولايت د مش عليا د مرمر ډبرو تړون، چې ۱۶،۷۴ کيلومتره مربع مساحت لري د...


۶

## د جوزجان ولايت قوش‌تيپې او درزاب ولسواليو ته د برېښنا رسونې پروژې تړون لاسليک شو



۲

## نړۍ دې د تحريمونو او فشارونو پرځای له اسلامي امارت سره اقتصادي اړيکې پراخې کړي



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په بلخ ولايت کې د يوه سوداګريز مارکيټ د کار د پيل په مراسمو کې د خبرو پرمهال د سيمې او نړۍ له هېوادونو وغوښتل چې د تحريمونو او بې ځايه فشارونو پرځای دې له اسلامي امارت سره اقتصادي اړيکې نرمې او پراخې کړي. نوموړي زياته کړه چې په سيمه کې يو هوسا او پياوړی افغانستان د نورو هېوادونو په زيان نه دی؛ بلکې د نورو هېوادونو له هوساينې او پياوړتيا سره مرسته کوي...


۲

## په ٦ مياشتو کې نيږدې ۷۶۱ جريبه ځمکه امارتي فيصله شوې



۵

## تأکيد وزير صحت بر توسعه همکاری‌های صحی ميان کابل و دهلی‌نو



۲

## تامين آب آشاميدنی صحی برای ۵۰۰۰ فاميل در پنجشير

۲

## ديدار رئيس عمومی رياست دفتر مقام رياست الوزراء با مسئولين اتاق توليدات زراعت و مالداری افغانستان

۲

### د غصب شويو ځمکو د استرداد لپاره د حکومت د ستاينې وړ هڅې

د افغانستان اسلامي امارت د خپل شرعي او ملي مسئوليت له مخې، د غصب شويو دولتي ځمکو د استرداد په موخه پراخې هڅې پيل کړي او په پوره جديت سره پر مخ روانې دي. دغه مهم اقدام د عدالت د تأمين، د بيت المال د ساتنې، د فساد د مخنيوي او خلکو ته د عامه حقونو د بېرته ورکولو په موخه تر سره کېږي. د اسلامي امارت مشرتابه د ځانګړو کمېسيونونو د رامنځته کولو او د قوانينو د شفاف تطبيق له لارې، هوډ لري چې له هر ډول تبعيض پرته، غصب شوې ځمکې وپېژني او له شرعي او قانوني اصولو سره سم يې د دولت ملکيت ته وسپاري. دا بهير نه يوازې د هېواد د اداري او اقتصادي نظام د اصلاح پر لور يو بنسټيز ګام دی، بلکې د نظم د ټينګښت، د عامه باور د پياوړتيا او له ملي منابعو څخه د عادلانه استفادې لپاره هم زمينه برابروي. اسلامي امارت په دې برخه کې د افغانستان د باعزته خلکو له همکارۍ څخه مننه کوي او ټينګار کوي چې د عامه شتمنيو ساتنه د ټولو هېوادوالو ګډ مسئوليت دی او پر دولتي اموالو هر ډول تېری به د منلو وړ نه وي.

مولوي نعيم الحق حقاني
د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز رئيس

سرمقاله

# د بېرته راستنېدونکو مهاجرینو لپاره د دایمي استوګنې پر لور مهم ګام

...د مهاجرو لپاره د ښارګوټو د جوړولو بهیر د کور او ښار جوړولو وزارت له لوري په څو اساسي او تخنیکي پړاوونو ویشل شوی دی. په دې پړاوونو کې د ځمکو تثبیت، تخنیکي او توپوګرافي سروې، د تفصیلي پلانونو جوړول، او وروسته د بنسټیزو خدماتو تطبیق شامل دي. د وزارت د راپور له مخې، تر دې مهاله د راستانه شوي هېوادوالو لپاره ۴۱ ښارګوټي تثبیت شوي، چې له دې جملې څخه د ۳۴ ښارګوټو د ځمکو توپوګرافي سروې بشپړه شوې او د پاتې ۷ ښارګوټو سروې چارې لا هم روانې دي.

اوسمهال د خدماتي چارو مهم پړاو، چې په کې د ساحې هوارول، د سړکونو جوړول او د جغل اچونې چارې شاملې دي، په ۱۳ ښارګوټو کې روانې دي او په ۳ نورو ښارګوټو کې دا چارې په بشپړ ډول پای ته رسېدلې دي. د پکتیا ولایت د رباط د مهاجرو ښارګوټی، د بامیان ولایت د قلعه اژدر ښارګوټی او د کندهار ولایت د دامان ولسوالۍ د مهاجرو ښارګوټي هغه سیمې دي چې د لومړي او دویم پړاو ټول خدماتي کارونه په کې په بریالیتوب سره بشپړ شوي دي.

سربېره پر دې، د کندهار ولایت د تخته‌پُل او ژړۍ ولسوالیو، د هلمند ولایت د واشیر ولسوالۍ، او د کندز ولایت د دشت ارچي او چهاردرې ولسوالۍ د خواجه‌کفتر په ښارګوټو کې د ساحې هوارولو او سړک جوړونې چارې په منظم او دوامداره ډول روانې دي.

همدارنګه، د ارزګان ولایت د ترینکوټ، د کنړ ولایت د خاص کنړ ولسوالۍ، د فاریاب ولایت د دولت‌اباد ولسوالۍ، د هرات ولایت مرکز، د زابل ولایت مرکز، د لغمان ولایت د شمکت ښارګوټی، د ننګرهار ولایت د روداتو او بهسود ولسوالیو، او د بلخ ولایت د نهرشاهي ولسوالۍ د مهاجرو په ښارګوټو کې هم یادې چارې په چټکۍ سره عملي کېږي.

خو له دې ټولو مثبتو ټکو سره سره، اړینه ده چې شفافیت، کیفیت او د خلکو ونډه د دې پروژو اساسي اصل پاتې شي. ښارګوټي باید یوازې ودانۍ نه وي، بلکې د ژوند کولو وړ چاپېریال ولري. دوامداره څارنه، د خلکو اړتیاوو ته غوږ نیول او د وخت پابندي هغه فکتورونه دي چې د دې ملي پروګرام بریا تضمینولای شي.

په ټوله کې، د بېرته راستنېدونکو مهاجرو لپاره د ښارګوټو پراختیا نه یوازې د استوګنې ستونزې ته ځواب دی، بلکې د ملي ثبات، ټولنیز عدالت او ښاري پرمختګ پر لور یو مهم ګام هم ګڼل کېږي. که دا بهیر په همدې جدیت او مسئولیت سره دوام ومومي، نو کولای شي د زرګونو کورنیو ژوند ته نوې هیلې او د هېواد راتلونکي ته روښانه لید ورکړي.

# دیدار رئیس عمومی ریاست دفتر مقام ریاست الوزراء با مسئولین اتاق تولیدات زراعت...

...محترم داکتر ملاعبدالواسع رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با حاجی خان محمد فروتن رئیس عمومی اتاق تولیدات زراعت و مالداری افغانستان و شمار دیگری از مسئولین این اتاق، در ارگ دیدار کرد.

در این دیدار که شیخ محمود ذاکری رئیس امور سیاسی و مردمی ریاست دفتر مقام ریاست الوزراء نیز حضور داشت، حاجی خان محمد فروتن رئیس عمومی، حاجی حکیم خان ابراهیم خیل رئیس مالی و حاجی محمد باز غیرت نماینده اتاق تولیدات زراعت و مالداری از همکاری و حمایت های امارت اسلامی از اتاق متذکره قدردانی کرده، خواست ها و پیشنهادات شان را در زمینه های مختلف با رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء به اشتراک گذاشتند.


مسئولین اتاق تولیدات زراعت و مالداری، در مورد کارکردها، مشکلات و پیشنهادات اتاق متذکره معلومات ارائه کرده، گفتند که صادرات تولیدات افغانستان در سال جاری افزایش یافته و مسدود بودن راه های افغانستان با پاکستان بالای تولید کشور تاثیری نداشته است و صادرات و واردات افغانستان از مسیرهای دیگر همچنان به گونه ی بهتر جریان دارد.

آنان با بیان اینکه در تلاش اند تا در انکشاف و پیشرفت کشور سهم بیشتری داشته باشند، از رهبری امارت اسلامی خواستند که از اتاق های زراعت، کسبه کاران و صنعت کاران کشور حمایت بیشتر صورت گیرد.

محترم داکتر ملا عبدالواسع رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء ضمن قدردانی از کارکردها و فعالیت های اتاق تولیدات زراعت و مالداری افغانستان، گفت که امارت اسلامی همیشه از تولیدات داخلی و سرمایه گذاران، تاجران و کسبه کاران بخاطر رشد اقتصادی کشور، حمایت نموده است.

رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء، به آنان اطمینان داد که با ادارات مربوطه در زمینه حل مشکلات شان، صحبت خواهد کرد.

# نړۍ دې د تحریمونو او فشارونو پرځای له اسلامي امارت سره اقتصادي اړیکې...



...محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل: اسلامي امارت د سیمه ییز او نړیوال مشارکت په برخه کې په هر اړخیز اقتصادي او سیاسي اصالت باور لري؛ مګر دا چې لوېو ارزښتونو او اصولو ته متقابل احترام موجود وي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه د عامه او خصوصي مشارکت او یا نورو قراردادونو له مخې د خصوصي سکتور سره د سترو اوږدمهاله پروژو په برخه کې د اسلامي امارت تعامل د دې واضح پیغام ورکوي چې په افغانستان کې د داخلي او بهرنی پانګونې لپاره زمینه مساعده ده او هر څوک کولی شي چې له دې فرصت څخه ګټه واخلي.

په مزارشریف کې دا اته پوړیز سوداګریز مارکېټ چې د ۷۴۳ میلیونه افغانی په پانګونه د ارشاد، حج او اوقاف وزارت په ۶۰۰ متره مربع ځمکه جوړیږي، ۸۷۰ دوکانونه، څلور رستورانتونه، یو مېلمستون، جومات او پارکېنګ پکې په پام کې نیول شوي دي. د دغه مارکېټ ساختماني چارې به په دوو کلونو کې بشپړې او هر کال به د امارت خزانې ته ۴۳ میلیونه افغانی د کلنی اجارې په توګه ورکول کېږي.

# تأکید وزیر صحت بر توسعه همکاری‌های صحی میان...



...محترم مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت عامه کشور، در جریان سفر رسمی خود به هند، در نشستی با مسئولان اداره توسعه ادویه این کشور بر گسترش همکاری‌ها و روابط دوجانبه در زمینه ادویه، تجهیزات طبی و محصولات صحی تأکید کرد.

وزیر صحت عامه خاطرنشان ساخت که همکاری هند با سکتور صحی افغانستان نقش مهمی در تقویت صنعت دواسازی، تضمین کیفیت ادویه و دسترسی مردم به داروهای ارزان و باکیفیت دارد. او افزود که هدف وزارت صحت، تقویت سیستم صحی کشور و فراهم‌سازی خدمات صحی معیاری برای شهروندان است.

مسئولان اداره توسعه ادویه هند نیز اعلام کردند که فعالیت این اداره شامل تولید و صادرات ادویه، مواد فعال دارویی، واکسین‌ها، محصولات بیولوژیکی، تجهیزات تشخیصی و خدمات تحقیق و توسعه است. در این نشست، هند همچنین حدود یک‌صد هزار دوز واکسین برای درمان امراض موسمی به افغانستان اهدا کرد.

اداره توسعه ادویه هند، نهاد دولتی تحت چتر وزارت تجارت و صنعت آن کشور است که مسئول توسعه و هماهنگی صادرات جهانی دارو و تجهیزات صحی هندی می‌باشد.

# د جوزجان ولایت قوش‌تېپې او درزاب ولسوالیو ته د برېښنا رسونې پروژې تړون...

...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال، محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د اوبو او انرژۍ وزارت او خصوصي شرکت ترمنځ د جوزجان ولایت قوش‌تېپې او درزاب ولسوالیو ته د برېښنا رسونې پروژې تړون لاسلیک شو.

پر دغه پروژه شاوخوا یو میلیارد او ۸۸۶ میلیونه افغانی لګښت راځي، چې چارې به یې په درېیو کلونو کې بشپړې شي. په دې پروژه کې د ۸۵.۲۴ کیلومترو په اوږدوالي د ۲۲۰ کیلوولټ برېښنا مزي غځول، په قوش‌تېپې او درزاب ولسوالیو کې د دوه سب سټېشنونو او دوه توزیعي شبکو جوړول شامل دي، چې د چارو په بشپړېدو سره به یې زرګونه کورنۍ له برېښنا برخمنې شي.

# تامین آب آشامیدنی صحی برای ۵۰۰۰ فامیل...




...ریاست احیا و انکشاف دهات ولایت پنجشیر از بهره‌برداری هفت پروژه شبکه آب آشامیدنی صحی به ارزش ۱۶ میلیون و ۱۱۲ هزار و ۲۶۴ افغانی در این ولایت خبر داد.

مسئولان در ریاست احیا و انکشاف دهات پنجشیر می گویند که با بهره برداری از این هفت پروژه، آب آشامیدنی صحی برای پنج هزار خانواده در ولسوالی‌های حصه اول و پریان و بازارک مرکز این ولایت، تأمین شده است.

به گفته آنان، این شبکه‌های آب آشامیدنی در قریه های دنگانه، نولیج، سنگانه، کوهسار پائین، منجلول و رخ‌پشغور مربوط ولسوالی‌های پریان، حصه‌اول و بازارک مرکز پنجشیر ساخته شده است.

باشندگان محل از تطبیق و بهره‌برداری این پروژه‌ها ابراز خرسندی کرده و گفتند که با دسترسی به آب آشامیدنی صحی، بسیاری از مشکلات صحی آنان رفع خواهد شد.

# افتتاح شش باب ساختمان جدید مکتب در...



...این ساختمان‌ها در ولسوالی‌های خدیر، کیتی، کجران و پاتو اعمار شده و هر یک شامل شش صنف درسی، دفاتر اداری و سایر تسهیلات آموزشی می باشد.

مسئولان محلی می‌گویند که این مکاتب محیطی مناسب و معیاری برای آموزش کودکان فراهم می‌کنند و به ارتقای کیفیت تعلیم و تربیه در این ولایت کمک خواهد کرد.

PANA ARG

Islamic Emirate of Afghanistan
Govt. Media and Information Center

www.gmic.gov.af

Issue #95

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
93+ (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan




# Electricity Supply Project Agreement Signed for Qosh Tepa and Darzab Districts of Jawzjan Province



In the presence of the Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, an agreement was signed between the Ministry of Water and Energy and a private company for the implementation of an electricity supply project in the Qosh Tepa and Darzab districts of Jawzjan Province.

The project has an estimated cost of approximately 1.886 billion Afghanis and is scheduled for completion within three years...ContP#4

# Large-Scale Land Restitution Marks a Turning Point in Protecting State-owned Property




Over the past six months, the Commission for the Prevention of Land Usurpation and the Restitution of Grabbed Land has resolved nearly 761,000 jeribs of land across the country that were subject..ContP#4

# Provision of Safe Drinking Water for Five Thousand Families in Panjshir



...ContP#4

# Resumption of Construction Activities in Refugee Townships in Kunar Province



In Kunar Province, particularly in Khas Kunar District, construction activities in refugee-related townships that had been suspended due to the recent...ContP#4

# Inauguration of a New School Building in Kandahar Province



A newly constructed building for Imam Sahib School, located in Panjwaee District of Kandahar Province, was officially inaugurated and handed over for use during a formal ceremony.

The construction of the facility was funded...ContP#4

## Editorial

# A Major Step Toward Permanent Settlement for Returning Migrants

As Afghanistan steadily advances toward social stability and economic recovery following decades of conflict, the issue of permanent settlement for returning migrants has become one of the government's foremost priorities. Thousands of families returning to the country after prolonged displacement seek not only housing, but also dignified living conditions, security, and long-term stability. In response to these needs, the Ministry of Urban Development and Housing has prioritized the development of standardized residential townships across multiple provinces, aiming to provide returning citizens with the essential infrastructure and services required for sustainable and honorable settlement.

According to the Ministry of Urban Development and Housing, construction, leveling, and gravel surfacing of internal road networks are currently underway at an accelerated pace in 15 residential townships nationwide. These activities represent a critical phase in the delivery of basic urban services, as road infrastructure serves as a foundational element for housing accessibility, transportation, security facilitation, and the provision of public utilities.

The development process for migrant townships has been systematically structured by the Ministry into several key technical phases. These include land identification and legal verification, technical and topographical surveys, preparation of detailed master plans, and the subsequent implementation of core infrastructure and service components. Ministry data indicate that a total of 41 residential townships have been formally designated for returning migrants to date. Of these, topographical surveys have been completed for 34 townships, while survey work for the remaining seven is currently in progress.

At present, the main service implementation phase; encompassing land leveling, road construction, and gravel application; is actively ongoing in 13 townships and has been fully completed in three others. Notably, the Rabat Migrant Township in Paktia Province, the Qala-e-Azdar Township in Bamyan Province, and the migrant township in Daman District of Kandahar Province have successfully completed all infrastructure works under the first and second phases.

In addition, infrastructure development activities are progressing steadily in the Takhta Pul and Zherai districts of Kandahar Province, the Washir District of Helmand Province, and the Khwaja Kaftar townships located in the Dasht-e-Archi and Chahardara districts of Kunduz Province.

Similar works are also being implemented...ContP#4

# Electricity Supply Project Agreement Signed for Qosh Tepa and Darzab Districts of...



...The project includes the installation of a 220-kilovolt transmission line extending 85.24 kilometers, as well as the construction of two substations and two electricity distribution networks in the targeted districts. Upon completion, the project is expected to provide electricity access to thousands of households.

# Large-Scale Land Restitution Marks a Turning Point in Protecting State-owned...




...to illegal seizure or unlawful occupation. These decisions were made based on verified legal documentation and evidence.
The land located in Kabul city and 33 other provinces, have been formally recognized as state-owned property through decisions issued by the leadership of the Commission.
Of this total, approximately 29,000 jeribs of land-related cases have been referred, in accordance with the Law on the Prevention of Land Usurpation and the Restitution of Grabbed Land, to specialized courts for adjudication and issuance of Sharia-based rulings. These cases are currently under judicial review.

# Inauguration of a New School Building in...



...by a partner organization at a total cost of 7 million and 618 thousand Afghanis. The building includes six classrooms, one administrative office, a solar power system, a deep well for clean drinking water, a perimeter wall, designated ablution facilities, and other essential auxiliary infrastructure.



# Provision of Safe Drinking Water for Five Thousand...



...The Panjshir Provincial Directorate of Rural Rehabilitation and Development announced the completion and operationalization of seven safe drinking water network projects in the province, with a total value of 16,112,264 Afghanis. According to officials, the implementation of these seven projects has ensured access to safe drinking water for approximately five thousand families in the districts of Hisa-e-Awal, Paryan, and Bazarak, the provincial capital.
The water supply networks were constructed in the villages of Dangena, Nulij, Sangena, Kohsar-e-Payin, Manjalol, and Rukh Pashghor, located within the aforementioned districts. Local residents expressed satisfaction with the projects, noting that access to safe drinking water will significantly reduce health-related challenges in their communities.

## Editorial

# A Major Step Toward Permanent Settlement for Returning Migrants

...at a rapid pace in the migrant townships of Tarinkot in Uruzgan Province, Khas Kunar District in Kunar Province, Dawlatabad District in Faryab Province, the provincial centers of Herat and Zabul, Shamkot Township in Laghman Province, the Rodaat and Behsood districts of Nangarhar Province, and the Nahreshahi District of Balkh Province.
Despite these encouraging developments, it is essential that transparency, quality assurance, and community engagement remain central principles throughout the implementation of these projects. Residential townships must go beyond physical construction and be developed as fully livable environments. Continuous monitoring, responsiveness to community needs, and strict adherence to project timelines are critical to ensuring the effectiveness and sustainability of this national initiative.
In conclusion, the development of residential townships for returning migrants represents not only a response to housing needs, but also a strategic investment in national stability, social cohesion, and urban development. If pursued with sustained commitment, professionalism, and institutional accountability, this initiative has the potential to restore hope for thousands of families and contribute significantly to a more stable and prosperous future for Afghanistan.

# Resumption of Construction Activities in Refugee Townships in...



...earthquake have resumed. The initial phase of the project focuses on the construction of internal roads and the installation of water supply pipelines, which are considered essential for improving the quality of life of local residents and returning refugees.
The construction works are expected to be completed in the near future and subsequently handed over for public use. In parallel, the process of plot allocation for returning refugees will commence to ensure the systematic utilization of the newly established facilities.
Under the leadership of the Permanent Settlement Committee, the Ministry of Urban Development and Housing has reaffirmed its commitment to accelerating efforts to meet the fundamental needs of refugees and to complete these projects within the designated timeframe.

# کندهار کې یو ښوونځی ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



د کندهار ولایت، پنجوایي ولسوالۍ اړوند د امام صاحب ښوونځي لپاره نوې او معیاري ودانۍ جوړه او د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې رسماً ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
یاده ودانۍ د یوه همکار بنسټ په مالي ملاتړ د ۷ میلیونه او ۶۱۸ زره افغانیو په لګښت جوړه شوې ده.
په دغه ودانۍ کې ۶ درسي ټولګي، یوه اداري خونه، د لمریزې برېښنا سیستم، د څښاک پاکو اوبو ژوره څاه، احاطوي دېوال، د اوداسه لپاره منظم ځای او نور اړین ملحقات شامل دي.

# ۲۴۳۰ فامیل مستحق در بادغیس کمک دریافت کردند



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس برای ۲۴۳۰ فامیل مستحق کمک‌های غذایی توزیع کرده است.
بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه (AYSO)، برای ۲۴۳۰ فامیل مستحق در مرکز ولایت و ولسوالی‌های جوند و قادس کمک‌های غذایی توزیع گردید.
در این روند، به هر فامیل یک بوری آرد ۵۰ کیلویی، ۴ لیتر روغن، ۴ کیلوگرام دال نخود و نیم کیلوگرام نمک توزیع شد.

# لغمان کې څه د پاسه ۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ٦ ښوونځیو د بیا رغونې چارې پیل شوې



باختر آژانس: د لغمان ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وايي، چې د دې ولایت په قرغیو، علیشنګ، دولت شاه او علینګار ولسوالیو کې د شپږ ښوونځیو د بیارغونې چارې پیل شوې.
د مسئولینو د معلوماتو له مخې یاد ښوونځي د پوهنې وزارت له بودیجې څخه د ۸ میلیونه ۳۹۲ زره افغانیو په لګښت د دوه میاشتو په موده کې بیارغول کیږي چې په جوړېدو سره به یې سلګونه زده کوونکو ته د زدکړو سالم چاپېریال برابر شي.

# په شپږو میاشتو کې نږدې ۷٦۱ جریبه ځمکه امارتي...




...د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون د ۱۴۴۷ هجري قمري کال له پیل راهیسې، په ټول هېواد کې تر غصب او غیرشرعي تصرفاتو لاندې نیږدې ۷۶۱ زره جریبه ځمکه د اسنادو او مدارکو پر بنسټ امارتي فیصله کړې ده.
یادې ځمکې د کابل ښار او د هېواد په ۳۳ نورو ولایتونو کې موقعیت لري، چې د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي کمېسیون د رهبرۍ د فیصلو له مخې امارتي تثبیت شوې دي.
له دې جملې څخه، د کابو ۲۹ زره جریبه ځمکو دوسیې د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد قانون له مخې، د شرعي فیصلې په موخه د غصب شویو ځمکو قضیو ته د رسېدګۍ اختصاصي محکمو ته سپارل شوې دي، چې دا مهال د یادو محکمو تر څېړنې لاندې دي.
دغه راز په همدې موده کې د مرعی (څرځایونو) د سروې او تشخیص هیئت چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د حکم پر بنسټ، د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي کمېسیون لخوا توظیف شوی دی، د بادغیس ولایت په مرکز او ۱۰ ولسوالیو کې له ۴ میلیونو ۱۶۷ زره جریبو څخه زیاته عامه مرعی تشخیص او تثبیت کړې او د ځمکو په بانک کې یې ثبت او قید کړې ده.

# د سکتوري وزارتونو ترمنځ د همغږۍ ګډه ناسته...



...په برخو کې د لا زیاتو اسانتیاوو پر رامنځته کولو، صنعتکارانو ته په چارو کې د سهولتونو برابرولو، د ټیټ کیفیت او بې‌کیفیته توکو د واردولو د مخنیوي، په صنعتي پارکونو کې د شته ستونزو د حل او د کارپنځونې په موخه داخلي کارګرو ته په استخدام کې د لومړیتوب په اړه هراړخیزې خبرې وکړې.
همدارنګه محترم الحاج ملا عبدالمنان عمري د خپلو خبرو په دوام زیاته کړه؛ د کار او ټولنیزو چارو وزارت کاري مسئولیت او وظایفو په رڼا کې هڅه کوي؛ چې د راستنېدونکو هېوادوالو د کاري فرصتونو د ایجاد کمېټې په مشرۍ؛ یادو هېوادوالو ته د کاري فرصتونو زمېنې برابرې کړي، متخصص او د کار وړ اشخاص د وزارت په اطلاعاتي بانک کې ثبت کړي او هغه هېوادوال چې له زده‌کړو پاتې دي، د فني او حرفوي زده‌کړو مرکزونو، مدارسو او ښوونځیو ته د مسلک او د زده‌کړې د ترلاسه کولو په موخه معرفي کړي، چې د دې بهیر له لارې ټولې امارتي ادارې او خصوصي سکتور به د خپلو اړتیاوو او امکاناتو ته په کتو د کار فرصتونه برابر کړي.
ورپسې د کار چارو معین، محترم الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي هم په خپلو خبرو کې وویل: په هېواد کې بېکاري یو له هغو ستونزو څخه ده، چې انکار ترې نه شي کېدای، خو د افغانستان اسلامي امارت، په ځانګړې توګه د کار او ټولنیزو چارو وزارت، ژمن دی چې د بېکارۍ کچې راټیټولو لپاره، د بېلابېلو برنامو د تطبیق له لارې، اغېزناک ګامونه پورته کړي.
په پای کې د همکارو امارتي ادارو او خصوصي سکتور مسئولینو هم ژمنه وکړه، چې د ځانګړي میکانیزم له مخې به راستنېدونکو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره کړي.

# کنړ ولایت کې د مهاجرینو ښارګوټي ودانیزې چارې...



...د نومرو د وېش بهیر هم پیل شي، تر څو دوی وکولای شي له نویو رامنځته شویو اسانتیاوو څخه په منظم ډول ګټه واخلي.
د اسکان دایمي کمېټې په مشرۍ، د کور او ښار جوړولو وزارت ژمنه کړې چې د مهاجرینو د اساسي اړتیاوو د پوره کولو لپاره خپلې هڅې لا ګړندۍ کړي او دغه پروژې به په ټاکلي وخت کې بشپړې کړي.



# بغلان کې ۱۳۸۵ بېوزلو کورنیو ته خوراکي مرستې وېشل شوې



د بغلان ولایت د پېښو سره له مبارزې آمادګۍ ریاست د ASIO مؤسسې په همکارۍ، او د خوړو نړیوال پروګرام په مالي ملاتړ، په بغلان کې ۱۳۸۵ اړمنو کورنیو ته خوراکي مرستې وېشلي دي. دغه مرستې د یوې پراخې سروې وروسته هغو کورنیو ته وېشل شوي چې د اقتصادي ستونزو او بېوزلۍ له امله د خوراک له کمښت سره مخ وې.
د وېش په مراسمو کې د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسئولینو او د ASIO مؤسسې استازو ګډون کړی و. د مرستو په بسته کې هرې کورنۍ ته دوه بورۍ اوړه (۲۵ کیلوګرامه)، ۵ لېټره غوړي، ۶.۲۵ کیلوګرام دال، نیمه کیلو مالګه، ۳ کیلو ګرامه سوپر سیریل او یوه نیمه کیلو پلمپي شامل وو.

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
دفتر سخنگو
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

# ارگ نامه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰٦٣٣
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

## د دایکندي ولایت د مرمر ډبرو تړون...



...د کانونو او پټرولیم وزیر، محترم الحاج ملاهدایت الله بدري، د دایکندي ولایت د مش علیا د مرمر ډبرو تړون، چې ۱۶،۷۴ کیلومټره مربع مساحت لري د سلطاني شرکت سره، د دېرشو کلونو لپاره لاسلیک کړ.

د کانونو او پټرولیم وزیر، د یاد تړون د لاسلیک پر مهال وویل، د دې تړون په لاسلیک سره به د عوایدو سربېره د سیمې خلکو ته کاري فرصتونه برابر شي.
دغه راز د مرمر ډبرو پروسس به د ملک دننه ترسره او وروسته به بهرنیو ملکونو ته صادرې شي.

د یادونې وړ ده چې یاد شرکت به د اکتشاف او استخراج په برخه کې د ۲۸۳ میلیونو افغانیو په ارزښت پانګونه وکړي. د دې تر څنګ څه باندې ۲۰۰ هېوادوالو ته به کاري فرصتونه برابر کړي او د سیمې خلکو ته به د ټولنیزو چوپړتیاوو په برخه کې هم کار وکړي.

## آغاز پروژه قیرریزی جاده‌ای در بدخشان برای اتصال ۱۰ ولسوالی به فیض‌آباد



پروژه قیرریزی جاده‌ای که قرار است نزدیک به ده ولسوالی ولایت بدخشان را به مرکز فیض‌آباد وصل کند، با هزینه‌ای بالغ بر ۶۰۳ میلیون افغانی آغاز شد.
مسئولان محلی اعلام کرده‌اند که فاز نخست این جاده، ۲۶ کیلومتر طول دارد و تکمیل آن می‌تواند مشکلات رفت‌وآمد مردم این ولسوالی‌ها را تا حد زیادی کاهش دهد.
باشندگان این ولسوالی‌ها که با دشواری‌های زیادی برای رسیدن به مرکز مواجه‌اند، از آغاز این پروژه استقبال کرده و امید دارند که پس از تکمیل، مسیرهای ارتباطی‌شان تسهیل شود.
مسوولان پروژه نیز گفته‌اند که ساخت این جاده حدود ۱۸ ماه به طول خواهد انجامید.

## د سکتوري وزارتونو ترمنځ د همغږۍ ګډه ناسته ترسره شوه



د کار او ټولنیزو چارو وزیر، محترم الحاج ملا عبدالمنان عمري په مشرۍ؛ هېوادوالو ته د کاري فرصتونو د برابرولو په موخه د صنعت او سوداګرۍ، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، د اوبو او انرژۍ، د کډوالو او بېرته راستنېدونکو، اقتصاد او صنعت او سوداګرۍ وزارتونو، د افغانستان برېښنا شرکت، کابل ښاروالۍ، د صنعت کارانو اتحادیې، د احصایې او معلوماتو ملي ادارې او د صنعتي پارکونو له معینانو، مسئولینو او استازو سره د همغږۍ ناسته ترسره کړه.
په پیل کې د کار او ټولنیزو چارو وزیر، محترم الحاج ملا عبدالمنان عمري په خپلو خبرو کې د بین‌الوزارتي اړیکو او ګډو همکاریو د پراختیا پر اهمیت، د صنعتکارانو او بېرته راستنېدونکو هېوادوالو لپاره د هېواد په بېلابېلو برخو کې د ځمکو د وېش پر څرنګوالي، د داخلي او بهرنیو وګړو لپاره د کار جوازونو د ترلاسه کولو...


۵

## توزیع کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی به زلزله‌زدگان سمنگان



ریاست آمادگی با حوادث ولایت سمنگان، در ادامه تلاش‌های خود برای حمایت از آسیب‌دیدگان زلزله، ۸۵۱ خانواده زلزله‌زده این ولایت را با بسته‌های کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی تحت پوشش قرار داد. این کمک‌ها پس از انجام یک سروی دقیق و بررسی نیازهای خانواده‌ها، در مرکز ولایت سمنگان توزیع شد.
این کمک ها شامل، خیمه ها، کمپل ها و کارتن های مواد غذایی بوده که برای هر فامیل به صورت منظم توزیع گردید.
این کمک‌ها از سوی امارات متحده عربی فراهم شده و هدف از آن کاهش مشکلات فوری زلزله‌زدگان و تأمین نیازهای اولیه آن‌ها عنوان شده است.
مسئولان محلی تأکید کردند که ادامه چنین برنامه‌های حمایتی و همکاری بین‌المللی نقش مهمی در بهبود وضعیت زندگی خانواده‌های آسیب‌دیده و بازسازی مناطق زلزله‌زده دارد.

## کنړ ولایت کې د مهاجرینو ښارګوټي ودانیزې چارې بیا پیل شوې



د کونړ ولایت، په ځانګړې توګه په خاص کونړ ولسوالۍ کې د مهاجرینو اړوند ښارګوټي هغه ودانیزې چارې چې د وروستۍ زلزلې له امله ځنډېدلې وې، یو ځل بیا پیل شوې. دغه پروژه په لومړي قدم، د ښارګوټي د سړکونو او د اوبو د نللیکو په جوړولو تمرکز لري، چې د سیمې د خلکو او راستنو شوو مهاجرو د ژوند کیفیت ښه کولو لپاره حیاتي اهمیت لري.
ټاکل شوې چې یادې ودانیزې چارې به په نیږدې وخت کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. له دې سره به د راستنو شوو مهاجرو لپاره...

۵

## افتتاح شش باب ساختمان جدید مکتب در دایکندی

شش باب ساختمان جدید برای مکاتب ولایت دایکندی با حمایت مالی یک نهاد همکار و به هزینه ۶۴ میلیون افغانی، در حضور مسئولان محلی، علمای کرام و اهالی محل افتتاح و به بهره برداری سپرده شد...

۲